## د عبدالرحمن بابا په څو...

تسخیر شي، د ده په موجودیت کې او د ده په جغرافیه کې له انسانانو سره ښه وشي، د ده په خیته کې ښه انسانان وزېږي، حرام خواره نه غواړي، له غلو نفرت کوي، له ظالمانو سره دښمني کوي، له خدمتگارو سره مینه کوي، له غیر انساني کړنو نفرت کوي او له انسانانو سره مینه کوي.

له پورته ټولو خبرو څخه معلومېږي چې اختیار یوه ډېره مهمه کړنه ده او په لوح محفوظ کې هره لیکل شوې خبره هماغه ده چې نن یې موږ سر ته رسوو، یعنې اختیار زموږ ورځني کړه وړه دي، نو څکه یو شاعر وایي:

په تدبیر که دې د بام سوری بند نه کړ
دا تقدیر دی چې هغه کوټه به څاځي

شاعر د رحمان بابا برعکس تدبیري کړنې د تقدیر یوه برخه ښیي او تدبیر او اختیار ته ارزښت ورکوي. که په ورځني ژوند کې اختیار ته پام ونه کړو نو ډېر خلک به لاس تر زنې ناست وي او کار به نه کوي. اړتیا دا ده چې انسان کار وکړي، نړی د مسخرولو په فکر کې وي او هر څه ځان ته تابع کړي. له سهاره تر ماښامه کار د انسان اختیاري عمل دی چې د خالق له ارادې پرته نه تر سره کېږي.

د نړی پوهان په دې نظر دي چې انسان د جبر او اختیار په منځ کې قرار لري، که اختیار ورته ورکړل شوی دی، په ځینو مواردو کې اختیار ترې سلب شوی دی، چې د اختیار اخیستل هم د انسان په گټه دی.

اختیار انسان ته ورکړل شوی دی، خو له جبر هم ځان خلاصولی نه شي، راغلي دي: (انسان نه مطلق مجبور دی، نه مطلق مختار، بلکې د زماني په جریان کې مجبور انسان مختارېږي. اختیار له جبر څخه راوزي. اختیار داسې قدرت دی چې انسان یې په تدریجي توگه تر لاسه کوي، د دې قدرت بنیادي وسیله پوهه او شعور دی. د انسان اختیار په هغه علمي پوهه کې پروت دی، کوم چې په جبر غلبه مومي.) (۲: ۲٦مخ)

په انساني ښو کړنو کې اختیار له انسان سره دی او د مذهب د متابعت په نظر کې نیولو سره د ښو کارونو ورته ویل کېږي خو کله ـ کله جبراً ځینې غیر انساني اعمال په انسان منل کېدلای شي.نیچه اختیار ته ارزښت ورکوي او د اختیار بنسټ په پوهه کې ښیي. پوهه د انسان په داخل کې پیدا کېږي، یو انقلاب منځته راوړي

او د ښو کارونو استازیتوب کوي. د پوهې موضوع د عقلاني فیلسوفانو نظر دی خو عرفا او صوفیان بیا عقل او فکر د یوې دویمې وسیلې په ډول د انسان په باطني نړی کې حسابوي او زړه اصلي او اوله وسیله منې. د نیچه په نظر ډېرې جبري موضوعگانې د اختیار په وسیله سمېدای شي. یعنې انساني اختیار دا واک لري چې ډېرې جبرې خرابې او ناسمې پدیدې او عادتونه په ریاضت او تکرار سره سمې کړي. انسان ټولنیز موجود دی، د ځینو ټولنیزو شیانو تابع او د ځینو تابع نه وي، متابعت یې په خپل لاس کې دی او د هغو کړنو متابعت نه کوي، چې جبراً پرې راشي نو انسان باید ډېرې جبرې موضوعگانې د ځان تابع کړي او دا کار په اختیار سره کېږي.

رحمان بابا په دویم نیم بیتي کې وایي:

د قسمت علاج په عقل کله کړ شي (۱: ۲۷٦مخ)

شاعر عقل ته ارزښت نه ورکوي او هر څه د قسمت پورې تړي. قسمت که د تقدیر په معنا وي، بیا هم دا خبره کوم چې انساني عقل او عقلانیت او د عقل په وسیله عمل کول د قسمت او تقدیر یوه برخه ده.

د انسان د فوقیت یو لامل عقل دی او د همدغه عقل په وسیله خپل برخلیک ټاکلی شي، نو څکه د عقل د تر لاسه کولو تبلیغ پکار دی.

(د مغرب په څمکه کې لوی فیلسوفان تېر شوي چې له دې جملې سوکرات، اپلاتون، ارستو، اگوستین، دکارت، لایب نیتس، بارکلی، هیوم، کانت او پیروانو یې ویل چې انسان د تجربې وړ نه دی او انسان د عقلانیت پر بنسټ ارزښت لري او دوی د عقل پر بنیاد نظریات ورکړي دي.) (۳: ۲مخ)

د انسان ارزښت د عقل له مخې ټاکل کېږي. که یو انسان د عقل غریب وي او د پوهې څواکمنتیا ونه لري، داسې انسان بیا ټولنې ته د گټې پر ځای زیان رسوي.

د عقلانیت د سم او ناسم برخورد په اړه راغلي دي: (هر څه انسان د تعقل په مټ تر سره کولای شي خو په اسلام کې تعقل او عقلانیت د دین له اساسي محورونو څخه گڼل کېږي له دې امله کولای شو ووایو چې بشري مینه، د بشر سترتوب او د بشر هوساینه کوم چې د تعقل په پایله کې تر لاسه کېږي، د اسلام د سپېڅلي دین تر ټولو مهم ارزښت او درس دی.) (۴: ۲ مخ)

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې گڼه کې خپرېږي.**

## پښتو ادب او ختیځ...

دی. د ده دواړه کتابونه په ۱۹۰۱ز. کې بیا چاپ او خپاره شول.

**۴) پروفیسور برنارډ ډورن (Prof. Bernhard Dorn)**

دا جرمن نژاده څېړونکی د روس په خارکاف نومې ښار کې په ۱۸۲٦ز. کال د ختیځو ژبو پروفیسور وټاکل شو. نهه کاله وروسته په سنټ پیټرزبرگ (په اوسني لینن گراډ) کې د ختیځ پېژندنـــــــــــــې انسټیټوټ استاد شو. په ۱۸۴۳ز. کې د آسیا ټک لرغونتون (موزیم) مشر او په دویم کال د امپریل کتابتون مشر وټاکل شو. ده د قفقازي او خراساني ژبو مهارت ترلاسه کړی و. پر ځینو درسي کتابونو او د پښتنو تاریخونو سربېره نومو‌ړي ختیځپوه په ۱۸۴۵ز. کې یو پښتو ـ روسي سیند (قاموس) او په ۱۸۴۷ز. کې د پښتو ادبیاتو غورچاڼ خپور کړی دی.

برنارډ د پښتو ژبې له گرامر ورهاخوا د اوخار افغاني مؤرخ نعمت الله هروي تاریخ هم ژباړلی دی او پر دې تاریخ یې لمنلیکونه او خپلې زیاتونې هم لیکلي دي. دغه نامتو ختیځپوه د ژوند تر وروستۍ سلگۍ پورې په سنټ پیټرزبرگ کې و او هماله ومړ. د ده بشپړ نوم برنارډ ډورن (Bernhard Dorn) و.

له برنارډ ډورن مخکې دوه نور شخصیتونه تېر شوي چې هغوی د پښتو ژبې د سیند (قاموس) او گرامر په ډگر کې کار کړی دی. د دوی دواړو ختیځپوهانو کتابونه په سنټ پیټرزبرگ (اوسني لینن گراډ) کې چاپ شوي دي. په دې آثارو کې د پښتو سیند (قاموس) مؤلف ختیځپوه گولډن سیټ و. د ده کتاب په ۱۷۹۱ز. کې چاپ شوی دی. دویم یې کلپراټ و. ده د پښتو ژبې پر گرامري جوړښت باندې یو کتاب لیکلی دی. ډورن د دغه گرامر یادونه کړې ده او ورسره یې دا خبره هم کړې ده چې په دې گرامر کې ډېرې تېروتنې شته دي. د پښتو گرامر دا اثر په ۱۸۱۰ز. کې چاپ شوی دی.

**۵) جیمز ډار مستېټر (James Darmestator)**

ډار مستېټر د ختیځپوهانو له مهمو اشخاصو څخه دی. ده د پښتو پر فوکلور بنسټیز کار کړی دی؛ خو ورسره یې پر نورو موضوعاتو هم څېړنې کړې دي. نواز طایر د ده په اړه د بېلا بېلو سرچینو له مخې لیکلي:

»د شلمې پېړۍ یو مشهور یهودي نسله ختیځپوه د فرانسې پروفیســــــــور جیمز ډار مستېټر و. دی په دې

فرانس پوهنتون (کالج) کې د ختیځو علومو استاد و او په ۱۸۸٦ز. کې د هند نیمې وچې ته د یو ځانگړي ماموریت لپاره راغلی و.

د نوموړي د ماموریت موخه د پښتو ژبې د ولسي سندرو راټولول او د پښتنو د ادب څېړل وو. ده د پښتو ولسي سندرې او ځینې بېلگې له فرانسوي ژباړې سره په خپل مشهور کتاب «Chants Populair _ Des Afghans» یعنې د پښتونخوا د شعر هاروبهار کې چاپ او خپرې کړې دي. په دې ټولگه کې د پښتو ولسي- غزل، بدلې، چاربیتې، متلونه، لنډۍ، الله هو، ذاتي نمونه او نور راټول شوي دي. د دې کتاب په لومړي مخ کې لیکل شوي دي.

»د پښتو د شعرونو هارو بهار «د غزلونو، چاربیتو، اصطلاحاتو، لنډیو او سندرو یوه ټولگه ده چې د پېښور ښار او ایبټ آباد په چاونۍ کې د فرانسوي سرکار په امر او غوښتنه په ۱۳۰۳هـ .کې ښاغلي جیمز ډار مستېټر ترتیب کړې ده.

دا کتاب د فرانسې د پاریس ختیځې ټولنې په مالي لگښت په دولتي چاپخونه (مطبعه) کې په ۱۸۸۸ز. کې چاپ شوی دی چې ټولټال ۵۲۸ مخونه لري. په دې کتاب کې د ژبې د جوړښت او اصولو په اړه هم اړین معلومات راټول شوي دي. په دې لړ کې د هزاره ولسوالۍ د ډوډیال نومي کلي محمد اسماعیل سواتي له نوموړي استاد سره د زړه له تله مرسته کړې ده.

د ډار مستېټر د ژوند د حالاتو په اړه څېړونکي حبیبي په خپل کتاب »د ډارمستېټر پښتو څېړنې «کې لیکلي دي. دی د ۱۸۴۹ز. کال د مارچ پر اته ویشتمه نېټه د الزاس په یوه غریبه کورنۍ کې زېږېدلی دی. د پلار نوم یې سرف (Cerf)او ارس ډار یې ورور و، دی هم لوی پوه و. ویل کېږي چې جیمز ډار د رنگ، پوزې او ظاهري شکل له مخې ښکلی نه و، هغه په پاریس کې زده‌کړې کړې وې او په ۱۸۷۷ز. کې یې په ادبیاتو کې Ph.Dاخیستې وه. له ختیځو ادبیاتو سره یې ډېره مینه درلوده او په دې ډگر کې یې د څېړنې او څېړنې کار ډېر په مینه او هڅو کاوه. حبیبي وایي: وړاندې له دې چې دی د ژبې مرستیال استاد وټاکل شي، پنځه کاله وروسته د ځانگې مشر هم ټاکل کېږي. په ۱۸۸۵ز. کې دی د فرانسې په دې کالج کې د فارسي ادبیاتو استاد شو او ورسره د آسیایي ټولنې قلمي همکار هم و. له موسیمورینان وروسته د دې ټولنې سیکرتر هم و.

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې گڼه کې خپرېږي.**

## د حمید مومند په اشعارو کې...

لغت کې د یو ځیرونکي ځناور لپاره جوړ شوی دی، اوس یو چا ته د بهادرۍ یا بل څه مناسبت په وجه د زمرې ویل د لغت په اعتبار مجاز دی. موږ په ورځنیو خبرو کې ډېرې داسې کلمې په اصلي نه بلکې به مجازي معنا کاروو.(۳: ۲۸۵مخ)

**د مجاز ډولونه**

**د علاقې له مخې د مجاز ډولونه**

**۱-استعاره (مستعار مجاز) :** که چیرته د کلمو د حقیقي او مجازي معناوو تر منځ مناسبت یا اړیکه د تشبیه له مخې وي، استعاره یا مستعار مجاز ورته وایی.

**۲-مرسل مجاز:** که چیرې د کلمو د حقیقي او مجازي معناوو تر منځ اړیکه یا مناسبت د تشبیه له مخې نه وي، بلکې نور مناسبتونه وي نو مرسل مجاز ورته وایي.

**استعاره (مستعار مجاز)**

استعاره په لغت کې د یو شي امانت غوښتل دي، یعنې په عاریت ډول د مشابهت په وجه یو لغت د بل پرځای کارول. اصطلاحاً: استعاره هغه مجاز دی چې علاقه یې تشبیه وي. په استعاره کې د متکلم اصلي غرض تشبیه ده، خو د مبالغې په صورت یې افاده کوي. مثلاً که ووایو (د سترگو نه یې د باران څاڅکې بهیدل) په دې جمله کې د باران له څاڅکو څخه اوښکې مراد شوي، چې دلته باران په خپله وضعي معنا نه، بلکې په استعاري او مجازي معنا باندې استعمال شوي دی. خو د باران د څاڅکو او اوښکو د څاڅکو ترمنځ یو مناسبت او مشابهت شته، چې په استعاره کې یې علاقه بولي. (۳: ۲۹۸مخ)

**د استعارې هدف او ارزښت**

د استعارې غرض د کلام ادبي کول دي او د ادبي کلام بنسټ استعاره ده. د استعارې فضلیت په دې کې دی، چې هره شیبه کولی شو د وینا بڼې ته تازگې ور وبښو او په پایله کې د یوې معنا څخه څو فایدې ترلاسه کړو. بل هدف یې دا دی، چې ډېرې معناوې په یوې کوچنۍ کلمې سره څرگندولای شو. د استعارې ارزښت په دې کې دی چې، د انسان فکري قوه څواکمنه کوي. بل ارزښت یې دا دی چې موږ یوه کلمه د خپلې حقیقي معنا پر ځای په بله نا حقیقي معنا کاروو او د ورته والي له مخې خپل فکري انځور مخاطب ته د لیږدولو لپاره په زړه پورې کوو که چیرې استعاره نه وای نو موږ به ډېرې خبرې په ساده بڼه یو او بل لوري ته لیږدولې. د ژبې د پرمختگ لپاره استعاره یو ارزښتمن کار دی.

استعاره د تصویر جوړولو او هنري ارزښت له مخې د تشبیهاتو ملکه گڼل شوې ده او د تشبیه لنډ شکل دی. (۲: ۹۹مخ)

**د استعارې رکنونه**

استعاره هم د تشبیه په څېر ارکان لري، په استعاره کې ارکان درې دي.

**۱-مستعارله:** هغې مجازي معنا ته وایې، چې یوه کلمه د څه مشابهت له کبله د حقیقي معنا پرځای په بله معنا کاریدلې وي. چې په تشبیه کې یې (مشبه) بولي.

**۲-مستعارمنه:** د یوې کلمې خپله حقیقي معنا ده، چې په ژبه کې ورته جوړه شوې ده. یا په بله وینا (مستعارمنه) هغه کلمه ده، چې په تشبیه کې ورته (مشبه به) ویل کیږي.

**۳-وجه جامع یا علاقه یا رابطه یا مناسبت:** د مستعارله او مستعارمنه تر منځ گډو صفتونو ته وجه جامع وایي یا په بله وینا وجه جامع هماغه گډ یا مشترک صفتونه دي، چې په تشبیه کې ورته (وجه شبه) ویل کیږي.

د استعارې دا پورته ذکر شوي ارکان د حمید مومند په لاندې بیت کې وگورئ.

زر پـه زر بـه ظالم حسـن د بتانو
کاندي خدای توره بـلا د خط نـزوله (۵: ۲۴۵مخ)

په د بیت کې بتان له ښکلو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه، (ښکلي) مستعارله، (د خط نزول) قرینه ده، (حسن) یې وجه جامع ده.

**د استعارې او تشبیه ترمنځ توپیر**

۱- په تشبیه کې مشبه او مشبه به دواړه ذکر کیږي، خو په استعاره کې یوه خوا.

۲- تشبیه قرینې ته اړتیا نه لري، خو په استعاره کې قرینه ضرور وي.

۳- په تشبیه کې کله کله د تشبیه توري ذکر کیږي، خو په استعاره کې د تشبیه توري نه کاریږي.

۴- په تشبیه کې ارکان مشبه، مشبه به او وجه شبه وي، خو په استعاره کې دغه ارکان مستعارله، مستعارمنه او وجه جامع بولي. (٦: ۱۷۱-۱۷۰مخ)

**قرینه**

قرینه هغه لفظ یا الفاظ چې د متکلم، مخاطب، اوریدونکي یا لوستونکي اراده له مقصودې (وضعي) معنا څخه نا مقصودې (غیروضعي) یا مجازي معنا ته گرځوي قرینه بلل کیږي.

یا په بله وینا: د بیان په علم کې هغې نښې ته چې په دې مو پوهوي چې کلمه په غیر وضعي، یعنې مجازي معنا راوړل شوې ده، قرینه وایي.(۳: ۲۸٦مخ)

مثلاً که ووایو: گیدړ مې ولید او د ده هدف بې زړه انسان وي، اوریدونکی به مقصوده معنا تر لاسه نه کړي، څکه په دې جمله کې قرینه شتون نه لري، که ووایو: په جبهه کې مې گیدړ ولید، نو جبهه قرینه ده چې موږ په دې پوهوي چې گیدړ په اصلي معنا نه بلکې په مجازي معنا کارول شوی دی.

**د قرینې ډولونه :** قرینه په دوه ډوله ده.

**۱- د قال قرینه:** کوم الفاظ چې‌زموږ ذهنونه غیر وضعي(مجازي) معنا ته وگرځوي، د قال قرینه یې بولي.قال قرینه په کلام کې په واضح او معلوم ډول په کار را وړل کیږي.لکه د حمید مومند په لاندې بیت کې:

څکـه نه لـري پـروا بتـان د مښـکو
هر کمنـد لري د زلفـو کان د مښـکو (۵: ۱۷۹مخ)

په بیت کې بتان له ښکلو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه، (ښکلي) مستعارله، د (زلفو کان) قرینه ده.

**۲- حال(معنوي) قرینه:** کله کله د حال تقاضا دا وي چې له یوې کلمې څخه غیر وضعي معنا واخیستل شي، د حال تقاضا ته د حال قرینه هم وایي.

د حال (معنوي) قرینه لفظاً یا لغتاً په کلام کې نه ذکرکیږي بلکې د کلام له سیاق څخه پوهیږو چې کلمه په مجازي یا غیرحقیقي معنا کارول شوې ده.

په پرده کې د اسلام بت پرستي کـړم
خدای دې نه کـاندي دا ستر زما مـات (۵: ۴٦مخ)
زماني دې ډیر مزري هسې خوار کړي
چې وهلی اوس پیشو تـه نـه شي دم (۵: ۱۴٦مخ)

**علاقه**

هغه مناسبت یا رابطه چې د وضعي او مجازي معناوو ترمنځ موجود وي علاقه بلل کیږي. په مستعار مجاز کې علاقه محدوده، یعنې تشبیه ده، مگر په مرسل مجاز کې بیا دغه علاقه آزاده ده او ډیر ډولونه لري.

که چیرته د دوو معناوو ترمنځ علاقه پیدا نه کړو، نو د مجاز هنري پیژندل شوي ښکلا به و نه لري. بې له علاقې څخه نه شو کولای د کلمو او جملو معناوو ته بدلون ورکړو.

له خامی جوش وخروش خیژي له دیگه
وي لـه خپلـې پختگـی پختـگان چـپ (۵: ۴۵مخ)

په پورته بیت کې (دیگ) د ظرف په معنا راغلی دی، چې موخه ور څخه په دیگ کې پراته خیزونه دي، نو له همدې امله یې د ظرفیت علاقه بولي.

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې گڼه کې خپرېږي.**

## له پښتو څخه روسي ژبې ته...

له خوا چاپ شوی دی. دا نښیر ټول ۴٦ مخه لري چې په سر کې یې یوه دوه مخیزه سریزه، له درېیم مخه تر ۳۴ مخه د بوللې د احصائیوي قاموس څېړنه او له ۳۴ مخه تر ۴۳ مخه پورې د ښکارندوی غوري د بوللې ژباړه راغلې چې ټول ۴۵ بیته لري.

له پښتو ژبې څخه روسي ژبې ته د دوکتور دولت محمد لودین له لوري پینځم ژباړل شوی نښیر **د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء** دی. دا نښیر پر ۱۹۸۵ ز کال د افغانستان د پوهنو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د پښتو مجلې له خوا، زموږ د اوسنی زماني او شلمې زېږدي پېړۍ د لوی پوه پوهاند عبدالحی حبیبي له سریزې، سمون او نښلونو سره چاپ شوی دی. دا نښیر ټول ۳۷ مخه لري چې په سر کې یې حبیبي صاحب خپله سریزه، وریسې د سلیمان ماکو د ژوندلیک او دده د پښتو تذکرې په اړه ژېپوهنیزه- تاریخي څېړنه شوې ده چې تر ۳۱ مخه پورې دوام کوي. پخپله د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا متن د کتاب په ۳۳ مخ کې پیلیږي او په ۳۷ مخ کې پای ته رسیږي. دڅېړنپوه لودین دا ژباړه هم د نورو ژباړو په څېر روانه، سلیسه ده او د روسي ژبې پیچلي ویینونه او غوندلې په کې شتون نه لري.

**پټه خزانه:** د دولت محمد لودین بله هغه ژباړه چې له پښتو څخه یې روسي ته کړې هغه د محمد هوتک پټه خزانه ده. په خواشینۍ سره چې د دې نښیر روسي ژباړه زما لاس ته را نغله، نو څکه خو یې په اړه تر دې زیات څه د ویلو نه لرم.

په پای کې اړینه ده ووایم چې زما په اند که چیرې د دولت محمد لودین دا ژباړې په روسیه کې چاپ شوې وای نو بهرنۍ نړۍ ته د افغاني ادبیاتو د ورپېژندنې له پلوه به یې گټه په کابل کې تر چاپ لا ډېره وای.

**مأخذونه**

۱. الفت، گل پاچا. غوره نثرونه، د افغانستان د پوهنو اکاډمي: ۱۹۸۷م.
۲. الفت، گل پاچا. د الفت نثري کلیات، اسد دانش چاپخونه: کابل، ۱۳۸۷ل.
۳. الفت ویبپاڼه. http://www.ulfat.de
۴. لودین، دولت محمد. په احصایوي میتود د اوسنۍ پښتو ژبې د څېړنې لارې چارې، د افغانستان د پوهنو اکاډمي: ۱۳٦۰ل.
۵. لودین، دولت محمد. شیخ اسعد سوري او د هغه د بوللې (قصیدې) احصایوي قاموس، د افغانستان د پوهنو اکاډمي: ۱۹۸۱م.
٦. لودین، دولت محمد. ښکارندوی او د هغه د بوللې احصایوي قاموس، د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د پوهنو اکاډمي: ۱۹۸۱م.
۷. سلیمان ماکو. تذکرة الاولیا، د پوهاند عبدالحی حبیبي له سریزې، سمون او نښلونو سره: ۱۹۸۵م.

څېړندوی شوکت عمر

# ژبه، معیاري ژبه، لهجه او د پښتو لهجو وېش (۱) برخه

**ژبه**

ژبه له تورو او غږونو څخه جوړ نظام دی چې د پوهولو او را پوهولو لپاره کارول کېږي. ژبه د یوه ملت ساتونکې ده. زموږګران هېواد یو غرنی هېواد دی، چې نږدې خلوېښت میلیونه نفوس لري، چې رسمي ژبې یې پښتو او دري دي. د دې ژبو ترڅنګ زموږ په هېواد کې یو شمېر نورې ژبې هم شته چې یو شمېر وګړي پرې خبرې کوي.

که چېرې په یوه ټولنه کې ټولنیز چاپېریال ته ځیر شو وینو چې د یوې ژبې هر ویونکی د یوې خاصې لهجې درلودونکی وي چې دغه توپیرونه د بېلابېلو ټولنیزو، بیالوژیکي، جغرافيايي، سیاسي او داسې نورو دریځونو له امله رامنځته کېږي چې د هر یوه ویونکي لهجه د فردي او ځانګړې لهجې په توګه ښرګندیدای شي.

ژبه د یوې وسیلې په توګه د انسانانو تر منځ د افکارو د لېږدونې او په خپلو منځو کې د اړیکو د ساتلو په موخه کارول کېږي. د هرې ژبې ویونکي د ژبې په کارولو کې توپیرونه سره لري دغه توپیرونه پېژندل او پرې پوهېدل یو اړین کار دی.

**ژبه د مقام او موقف له مخې**

د مقام له مخې ژبه څلور ډولونه لري چې په لاندې توګه یې راوړو:

۱- بین المللي ژبې: دا هغه ژبې دي چې په ټوله نړۍ کې کارول کېږي او نړیوال موقف یې خپل کړی دی چې د نړیوالو ژبو په سر کې راځي. په دې وروستۍ لسیزه کې تقریبا د ټولو نړیوالو ژبو ځای انګلیسي ژبې نیولي دی. په نړیوالو شپږ ژبو کې انګلیسي، عربي، جرمني، فرانسوي، روسي او چینايي شاملې دي.

۲- ملي ژبې: دا له هغو ژبو څخه عبارت دي چې د یوه هېواد اکثریت وګړي پرې غږېږي، ملي ژبې د هېوادونو رسمي ژبې هم وي لکه په افغانستان کې پښتو ژبه چې د یاد هېواد ملي او رسمي ژبه منل شوې ده.

۳- رسمي ژبې: دا هغه ژبې دي چې د یوه هېواد په اداري چارو کې کارول کېږي.لکه په افغانستان کې پښتو او دري.

۴- محلي ژبې: دا له هغو ژبو څخه عبارت دي، چې د یوه هېواد په لرو او پرتو سیمو کې ویل کېږي او په لویو ښارونو او ادارو کې نه ویل کېږي، لکه په افغانستان کې نورستاني او نورې ژبې. (۴:۲)

**معیاري ژبه (Standard Language)**

معیاري ژبه هغه منل شوې ژبه ده چې د یوه ژبني قلمرو په هره جغرافیايي سیمه کې د پوهېدو وړ وي. معیاري ژبه د ادبیاتو او میډیا ژبه وي او دا د یوې ژبې هغه ځانګړې بڼه ده چې ورته یو څه قانوني دریځ ورکړل شوی وي. ویل کېږي چې دا د یوې ژبې صحیح ترینه لهجه ده. معیاري ژبه زیاتره د یوه هېواد د پایتخت پر ژبه تکیه لري. د ژبې دغه شکل په ځانګړې توګه هغو زده کوونکو ته ور زده کېږي چې غواړي یاده ژبه زده کړي او د همدې ژبې ټول لیکلي متون هماغه د معیار په نامه منل شوي وي. (۱٦:۱)

**د معیاري ژبې ځانګړنې**

په نړیوال کچ د معیاري ژبې منل شوي معیارونه دا دي:

۱- یو منل شوی قاموس یا قاموسونه چې د ټولو معیاري شوو لغتونه معنا او املاء په کې درج شوي وي.

۲- یو منل شوی ګرامر چې د ژبې ټول شکلونه، قاعدې او جوړښتونه په کې ثبت شوي وي او هم دا خبره په کې څرګنده شوې وي چې کوم شکلونه باید استعمال شي او کوم استعمال نه شي.

۳- د تلفظ یو معیارې او منل شوی نظام چې ویونکي ورته د یوه علمي او مناسب تلفظ په سترګه وګوري او دغه راز له سیمه ییزو اغېزو لهجو څخه پاک وي.

۴- یوه مؤسسه چې د ژبې د استعمال چارې پر مخ وړي باید هغې ته د استعمال د نورمونو په ټاکلو کې پوره واک ورکړل شي، لکه د فرانسې د علومو اکاډمي یا د (رویال سپېنش) اکاډمي چې په دې برخه کې صلاحیت لرونکي مؤسسې دي.

۵- د یوه داسې منشور یا قانون موجودیت چې نوموړې ژبې ته د هېواد په قانوني جوړښت کې رسمي او قانوني ځای ورکړي.

٦- په عامه ژوند کې د همدغې معیاري ژبې کارونه.

۷- د ادبیاتو یو مرکز درلودل.

۸- په همدې ژبه باندې د مهمو کتابونو ژباړل چې د ویونکو له نظره سپېڅلي او معتبر وي.

۹- په ښوونځیو کې د هماغې ژبې د معیاري ګرامر او املاء تدریسول.

۱۰- د بهرینو زده کوونکو د تدریس لپاره د یوې ځانګړې لهجې ټاکل.(۱:۲۰)

**د پښتو ژبې د معیاري کولو هڅې**

زمونږ څېړونکي چې کله د پښتو ژبې د معیاري کولو هڅې مطالعه کوي په عمومي توګه یې له بایزید روښان څخه را پیلوي، ورپسې د خوشحال خان او عبدالقادر خان نومونه اخیستل کېږي او د هغوی له خوا د لغت جوړونې هلې ځلې د پښتو د معیار بنسټ ګرځول کېږي. بیا د پیر محمد کاکړ ( معرفته الافغاني) او ور پسې د امیر شیر علي خان پښتو بولي چې عسکري او دولتي نومونه یې پښتو کړل. د هغه په تعقیب مرکه د پښتو، پښتو ادبي انجمن او په پای کې پښتو ټولنې ته وار را رسېږي.

د امیر شیر علي خان د وخت پښتو اصطلاحات د هغه امیر له خوا په هېواد کې د نوي مدنیت او یوه منظم دولت د جوړېدو له پاره د عمومي پلان عملي کېدل و او په رښتیا سره هم باید د نوموړي امیر په محاسنو او هېوادپالو هلو ځلو کې وشمېرل شي، د ده دا کار د پښتو پالنې یوه ستره نمونه ګڼل کېدای شي.

مرکه د امیر امان الله خان غازي یوه وطنپاله او پښتو پاله هڅه ده، د دې مرکې ( یوازینۍ پښتو) او (پښتو پښویه) لویه لاسته راوړنه ده. یوازینۍ پښتو د ژبې د سوچه توب له هغه نړیوال تمایل سره په تړاو کې منځته راغلې وه چې د اماني عصر د ملي او مشروطه غوښتونکو مبارزو مخکښ لیکوال اروښاد محمود طرزی چې په عثماني ترکیه کې د ترکي نیشنلیستانو څخه یې الهام اخیستی و پیل شو. په دغه وخت کې ترکي ملتپالو له عربي او فارسي ژبې څخه د خپلې ژبې د پاکولو خورا غښتلی خوځښت پیل کړی و، د یوازینۍ پښتو په سر کې د مرکې مشر (خادم العلامه عبدالواسیع کندهاري) داسې لیکي:

((دا خبره هر یوه ته ښکاره ده چې د هر ټبر ژبه څو خپلنی نه شي لیک او لیکنې په خپله ژبه نشي، لوړتوب او پوره والی نشي درلودی او د پردي له اړې نشي وتلای، دا ځکه چې پردی کټ تر نیمو شپو دی، هغه نه خپلېږي او د هېڅ اولس مېړانه د بل په ژبه کې پر ټوله مځکه نه خپرېږي.))

تر دې وروسته چې پښتو ادبي انجمن د منورینو او تنظیمه رئیس محمد ګل خان مومند په اراده منځته راغی او د ده په حضور کې یې د پښتو لیکنې کومه لار تعقیبوله هغه لار خپله وزیر صاحب محمد ګل خان له خوا و نه پالل شوه او په ( پښتو سیند) او د (پښتو ژبې لیار) کې یې خپله لار تعقیب کړه.

پښتو ادبي انجمن د پښتو د عاملو او رسمي کولو پر لور یوه هڅه وه نه د معیاري کولو لپاره؛ سره له دې چې د پښتو ادبي انجمن غوښتنه وه چې پښتو یې معیاري وي.

د پښتو ټولنې لپاره د یوې واحدې لیکنې او د معیاري کېدو منظمې هڅې په کابل کې د پښتو ټولنې له جوړېدو سره سمې را منځته شوې دي، په تېره بیا کله چې په (۱۳۳۳ل) کال د پښتو ټولنې په اهدافو او وظایفو کې یو ژور بدلون راغی او د نویو وظایفو په لړ کې یې د پښتو ژبې د لغاتو او قواعدو تدوین د ضرورت له مخې د نویو اصطلاحاتو او لغاتو وضع کول دوی پورې مربوط شول او په خورا جدیت سره یې ادبي او لغوي څېړنې تر سره کړې او د ژبپوهنې په برخه کې یې په زړه پورې اثار ولیکل.(۱:۲٦)

**لهجه**

لهجه د انګریزي ژبې (Dialect) ژباړه ده، چې په عربي ژبه کې ورته لهجه په فارسي کې ورته ګویش، شیوه، په پښتو کې غږېدنه، خبرې اترې، د وینا ډول ګړدود، محاوره او داسې نور ورته ویلی شو.

Dialect په اصل کې د یوناني(Dialectos) څخه اخیستل شوی چې په نورو اروپايي ژبو کې هم دغه اصطلاح په لږ او ډېر توپیر کارول شوی.

لهجه د خبرو اترو طرز یا د خبرو د افادې یو ډول دی لهجه د یوې ژبې سیمه ایز ډول بلل کېږي لهجې ته فزیولوجي هم ویل شوې ده او هغه هم د افادې د څرګندولو لارې ته ویل کېږي.

د پښتو پښتو تشریحي قاموس دویم ټوک کې د لهجې په اړه داسې لیکل شوي دي: (د یو ځای محاوره د یوې ژبې هغه فورم چې په یوه خاصه منطقه پورې اړه او د ژبې د معیاري یا اصلي فورم څخه د محلي لغوي پانګې تلفظ او ګرامري جوړښت له مخې توپیر ومومي).

د لهجې تعریف او پېژندنې په هکله د پوهانو له خوا بېلا بېل تعریفونه وړاندې شوي چې دلته یې داسې راوړو.

لهجه پېژندنه په یوه ژبه کې د ژبې د ویونکو هغه مشخص او ځانګړي توپیرونه دي چې د هم هغې ټاکلې ژبې بېلې لهجې یې ګڼلای شو.

د یوې ژبې تصریفي تغییراتو مجموعې ته لهجه ویل کېږي.

لهجه د یوې ژبې داخلي او مورفولوژیکي تغییراتو ته ویل کېږي.

لهجه د یوې ژبې هغه شمېر تغییرات او بدلونونه دي چې د ګرامري کټګوریو د څېړنې په وخت کې انسان ور سره مخامخ کېږي او د همدغو تغییراتو په واسطه یوه ژبه په مختلفو ځانګو بېلېږي.

لهجه په ژبني سیستم کې دننه بدلون ته وایي.(٦:۲)

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې خپرېږي.**

## د عبدالقادر خان...

د یار مخ دی منور د خدای له نوره
کافر کله له دیداره مومي حظ (خټک، ۲۰۰۲، ٦۸)

له کافر څخه دلته هغه کافر نه دی مراد، کوم چې زموږ او ستاسو د اسلام د مبارک دین پر خلاف د نورو ادیانو پیرو وي، بلکې په اسلامي تصوف او عرفان کې هر هغه چا ته ویل کېږي چې حق پټوي او د زړه پر شیشه یې دنیوي کد او کدورات پراته وي، کله چې څوک د خپل زړه له شیشې څخه دغه کدورات لرې کړي، نو د الله سبحانه وتعالی نور به ورته منکشف شي، بیا به لکه د عبدالقادر خان خټک هر وخت د هغه تبارک وتعالی د انوارو او تجلیاتو له لیدلو نه خواند اخلي او وایي به:

نن زموږ جونګړې د یار په مخ رڼا ده
مستغني له روښنایي یې د چراغ یو (خټک، ۲۰۰۲، ۱۲۳)

ځکه د الله سبحانه وتعالی انوار او تجلیات هر وخت، هر ځای او پر هر څیز وي او دغه تجلیات هیڅکله په یوه شان نه پاتې کېږي، ځکه الله سبحانه وتعالی په خپل عظیم کلام قرآن عظیم شان کې په دې اړه فرمایي:»كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ ) « د الرحمن سورت، ۲۹ آیت) یعنې د الله تبارک وتعالی تجلیات او انوار هر وخت بېل بېل وي او د هغه تبارک وتعالی په تجلیاتو کې تکرار نشته. دغې موضوع ته هم عبدالقادر خان خټک په خپلو لاندې بیتونو کې داسې اشاره کوي:

کله کله په ترسان کې مخ څرګند کا
د صنعان په دود یې وران کاندي په دین کې (خټک، ۲۰۰۲، ۲۲۷)

دلبر مخ راته ښايي په هر آئین کې
ګهه په تور کې جلوه ګر شي ګهه په سپین کې
کله کله په ترسا کې مخ څرګند کا
د صنعان په دود یې وران کاندي په دین کې (خټک، ۲۰۰۲، ۲۲۷)

دلته اوس د ښه او بد، ښکلي او بدرنګ او مسلمان او کافر سوال نه پیدا کېږي، ځکه الله سبحانه وتعالی د خپلو بې شانه انوارو او تجلیاتو له مخې پر ټولو یو ډول احاطه کړې ده، لکه عبدالقادر خان خټک چې وایي:

منور دې کړ عالم د مخ له نوره
لکه لمر په تمامي عالم څرګنده (خټک، ۲۰۰۲، ۵۳)
په هر څه کې نندارہ د هغه مخ کړم
ځکه نور عالم غمونه کا زه سخ کړم ( خټک، ۲۰۰۲، ۹۴)

**مرید:** مرید هغه چاته ویل کېږي چې له خپلې ارادې څخه مجرد او له ماسوی الله څخه لرې شوی وي. (هیله من، ۱۳۸٦، ۲۳۲) عبدالقادر خټک په خپل شعر کې دې عرفاني نومونې او اصطلاح ته داسې اشاره کوي:

په همه وو مریدانو پیر شفیق وي
تربیت یې موافق په استعداد شي ( خټک، ۱۳۸۵، ۱۵۸)

مرید هغه چاته هم ویل کېږي چې اراده یې د حق سبحانه وتعالی په اراده کې محو او د توصل له مخې د الله سبحانه وتعالی په لور په حرکت کې وي، تر څو له ماسوی الله څخه لرې او پر حق باندې ملحق شي.(هیله من، ۱۳۸٦، ۲۳٦) د عبدالقادر خان خټک په یوه بل بیت کې هم د دې عرفاني نومونې په اړه یو شمېر بیتونه شته دي.

**مراد:** معبود، مرشد او یا مطلوب ته ویل کېږي.( هیله من، ۱۳۸٦، ۲۳٦) دا عرفاني او تصوفي اصطلاح هم عبدالقادر خان خټک په خپلو شعرونو کې ډېر ځایه راوړې ده. په یوه بیت کې یې په اړه وایي:

د محنت په لارې څه که مراد غواړې
ستا د مراد ترمنځ پرده تن آساني ده (خټک، ۲۰۰۲، ۲۴۸)

دلته له مراد څخه د عبدالقادر خان خټک موخه او هدف کوم دنیوي مراد او مطلوب نه دی، بلکې هماغه ازلي معبود او معشوق دی، چې عبدالقادر خان خټک یې له وختونو راهیسې په پلټنه کې دی، ځکه که چېرې هغه دنیوي مراد غوښتلای، نو تر نوم، آرام ژوند او طرب څخه به نور کوم مرادونه، ښه مرادونه وي، چې عبدالقادر خان خټک یې د خپل مراد لپاره پرېږدي او وایي:

چې دا درې څیزونه پرېږدي مراد مومي
اول نام، دویم آرام، دریم طرب دی (خټک، ۲۰۰۲، ۲۰۸)

انسان خپل ازلي معبود او معشوق ته هغه وخت رسېږي، چې دی په دنیا کې تر هر څه نه ورته تېر شي او هغه هم د دې لپاره نه چې هغه په دنیا کې ووینې او یا په دنیا کې له هغه سره یو ځای شي، ځکه چې د یوه ایت شریف د مفهوم له مخې هغه هیڅوک هم په دنیا کې نه شي لیدلای؛ بلکې دا د لیدو ټول اشتیاق او مینه یې اخرت ته پاتې کېږي. همدا لامل دی چې عبدالقادر خان خټک په دې لاندې نورو بیتونو کې فرمایي، چې د مراد په پلټنه سره نه، بلکې د مراد په پرېښودلو سره مراد حاصل کېدای شي:

په پرېښول به د مراد، مراد حاصل کړې
ګام په ګام دپاسه کېږده کامراني ده (خټک، ۲۰۰۲، ۲۴۸)
خپل مراد مې د مراد ترمنځ حجاب شو
نور به ترک عبدالقادره خپل مراد کړم (خټک، ۲۰۰۲، ۹۵)

**حیرت:** د حقیقت د کشف په وخت کې حیرانېدلو ته کشف ویل کېږي، چې دا حیرانېدل هم ښه کېدلای شي او هم بد.(هیله من، ۲۰۰۲، ۱۱۸) ښه په هغه وخت کې کېږي چې صوفي له یوه مقام نه بل مقام ته د پورته کېدو په حال کې له داسې حالت سره مخامخ شي، چې ده مخکې ترې معلومات نه درلودل او نه هم بل وخت ورسره مخامخ شوی ؤ او بد بیا په هغه وخت کې کېږي چې صوفي د کومې بې ادبۍ پر سبب له خپل لوړ مقام څخه راښکته شي او په دې راښکته کېدو کې له کوم داسې حالت سره مخامخ شي، چې ده مخکې نه وي لیدلی. زموږ د موضوع اتل حضرت عبدالقادر خان خټک د حیرت لومړنی حالت په خپل لاندې شعر کې راسپړي او وایي:

نندارچیانو به یې شرح د مخ وکړه
تحیر ورته آواز د لا تقل کا (خټک، ۲۰۰۲، ۲۹)

یعنې مشاهده کوونکو چې د مشاهدې په حالت کې د الهي محبوب او ازلي معشوق د انوارو ننداره وکړه، غوښتل یې چې د هغه د انوارو په باب نور هم له دې اسرارو څخه خبر کړي، خو د حیرانتیا حالت دوی له داسې څه سره مخامخ کړل، چې نور یې د هغه د انوارو شرح ته الفاظ او کلمات پر خوله نه راتلل. ځکه چې هره معنی په خبرو کې نه ادا کېږي. د ده دا لاندې بل بیت هم پورتني هغه ته ورته یو مفهوم لري:

په خبرو معنی کله ادا کېږي
خبر ځکه په حیرت له ګفتګوی شه (خټک، ۲۰۰۲، ۱٦۱)

له بلې خوا په اسلامي تصوف او عرفان کې چې کله د صوفي او سالک د ذکر مشرب د الله سبحانه وتعالی اسم ظاهر وي، نو صوفي په هر څه پوه شي، ان تر دې چې د ده په زړه کې د تېر، اوسمهال او راتلونکې ټولې پېښې موجودې وي، یعنې د زړه نه یې یو ډول د جم جام جوړ شي، چې د نړۍ ټول حالات په کې څرګندېږي. خو کله چې بیا د ده د ذکر مشرب د الله سبحانه وتعالی اسم باطن شي، نو بیا دا ټول علم ترې ولاړ شي او د بې علمۍ او ابهام پردې یې پر زړه راخورې شي. یعنې د خدای تعالی څومره معرفت چې د صوفي او سالک په زړه کې ځای نیسي، په هماغه اندازه د تحیر او حیرانتیا حالت پرې خپل سیوری غوړوي. د عبدالقادر خان خټک په لاندې بیت کې د اسلامي تصوف او عرفان همدغې موضوع ته اشاره شوې ده:

تحیر په موافق د معرفت دی
څو یې شناخت هومره یې زیاته حیراني ده (خټک، ۲۰۰۲، ۲۴۸)

د پایلې په توګه ویلای شو، چې د عبدالقادر خان خټک په دیوان کې نه یوازې د خپلې تصوفي طریقې (نقشبندیه) عرفاني سیمبولونه او اصطلاحات راغلي دي، بلکې د اسلامي تصوف او عرفان عمومي اصطلاحات او سیمبولونه هم په کې راغلي دي. دا ډول نومونې او سیمبولونه که څه هم د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې د ځینو نورو شاعرانو په شعرونو کې هم لیدل کېږي، خو د عبدالقادر خان خټک په دیوان کې یې د هغوی په پرتله ذکر او یادونه ځکه ډېره تر سترګو کېږي، چې عبدالقادر خان خټک خپله د اسلامي تصوف او عرفان د نقشبندیې په طریقه کې شامل شخص ؤ او په دغــــــه طریقه کې یې د شیخ سعدي (رح) څخه لاسنیوی کړی ؤ. دغه راز په همدې تصوفي طریقه کې د شیخ سعدي (رح) په لاس د خلافت پر مسند هم کښېنول شوی ؤ. دغو د خلافت مسند او موقف ده ته دا جرئت ورکړی دی چې په اسلامي تصوف او عرفان کې د پښتو ادب د منځنۍ دورې له نورو شاعرانو څخه بېل نظریات ولري؛ ځکه له یوې خوا هغه تصوفي او عرفاني اصطلاحات چې ده په خپل دیوان کې په کومه معنا کارولي دي، د پښتو ادب نورو شاعرانو په خپلو شعرونو کې په هغې معنا سره نه دي کارولي او له بلې خوا د اسلامي تصوف او عرفان په نورو برخو کې هم د ده افکار او نظریات له هغوی څخه بېل ګڼل کېږي.

**مأخذونه**

۱- قران کریم.
۲- حبیبي، سراج احمد. عرفاني ادبیات، سمون خپرندویه ټولنه: کابل۱۳۹۹ل.
۳-خټک، عبدالقادر. دیوان عبدالقادر خان خټک، پښتو اکیډیمي، پېښور پوهنتون: ۲۰۰۲م.
۴- خټک، عبدالقادر. حدیقه خټک، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور۱۹۸۸م.
۵- خویشکی، پروېز مهجور. روښاني تصوف، پښتو اکېډیمي: پېښور، ۲۰۱٦م.
٦- زېور، زېورالدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره، میهن خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۹ل.
۷- سالک، مصطفی. منشور، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۲۰۱۳م.
۸- کاشاني، عبدالرزاق.اصطلاحات الصوفیه، د محمد خواجودی ژباړه، انتشارات مولی: تهران، ۱۳۹۱ل.
۹- لېوال، عبدالغفور. شعري سیمبولونه، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۵ل.
۱۰- ناګار، فضل ولي. عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې ځرکونه، ناګار خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۸ل.
۱۱- هوتک، محمد. پټه خزانه، د پوهنې وزارت د تألیف ریاست: کابل، ۱۳۳۹ل.
۱۲- هیله من، عبدالباقي. فرهنګ عرفاني، مؤسسه انتشارات خاور: کابل، ۱۳۸٦ل.

# زېری

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د ۱۴۰۳ ل.کال، د وږي او تلې مياشتو ۱۱-۱۴ مه گڼې | پرله پسې ۴۲۷-۴۳۰ مه گڼې

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړيکې شمېرې:** ۰۷۸۰۸۳۱۹۶۰ (۰) (+۹۳)
۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰) (+۹۳)

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارگان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ



ليکوال: پوهاند دوکتور حنيف خليل
ژباړن: څېړندوی حمايت الله ښاد


## پښتو ادب او ختيځپوهان (۲) برخه

»په دې تېوله موده کې له ما سره د غلجي قبيلې يو ملا مرسته کوله چې د قلات غلجی و او پلار يې څه موده په کندهار کې قاضي و. همدا ده چې دغه مولوي له هره اړخه په پښتو ژبه باندې علمي او عملي پوهېږي. دی په عربي هم پوهېږي چې د اسلامي ژبو بنسټ پرې ولاړ دی. نوموړي راسره په ډېرو کارونو کې مرسته کړې او زما ډېر غټ مرستيال و. دغسې زما سره په پېښور کې هم د محمدزيو قبيلې يو بزرگ او د علم ښتن اخوندزاده ډېر کلونه ملگرتيا درلوده. دی په عربي او پښتو دواړو ژبو ښه پوره برلاسی و.دی ځکه په پښتو ښه پوهېده چې په باجوړ، پنجکوړه، سوات او بونېر کې يې ډېر وخت تېر کړی و او د دغو سيمو خلک اوس هم په سوچه پښتو غږېږي..«

راورټي په لومړي ځل د پښتو خط وضع کړ او د دې لپاره يې ځانگړې فاونډري هارټ فورډ راويسته. د ليک په دغه ډول کې توري دومره واضح او څرگند وو چې تر اوسه پورې په وضع شوو خطونو کې يې آن نسخ خط هم مقابله نشي کولای. ويلي کېږي چې راورټي د پښتو دا خپل خط د داود خان برېخ د لمسی گوهر رقم بي بي د پښتو نسخ خط پر لاره جوړ کړی دی.

څېړونکی قاضي اثر ليکي چې که څوک د ښاغلي راورټي د تأليفاتو د پښتو نسخ خط د ښکلا تعريف او توصيف کوي، نو دوی دې پښتنه خطاطه گوهر رقم بي بي هم له ياده نه باسي، چې په روهيلکنډ کې د نواب حافظ الملک د مشر زوی نواب محبت خان د کور بي بي وه.

ميجر راورټي د پښتو ژبې يو گرامر هم ليکلی دی. د دې کتاب په شاليد او اخيستنې کې هم د نواب محبت خان د روهيله گرامر يادونه شوې ده. دا گرامر په ۱۸۵٦ز. کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې پر گرامري موضوعاتو سربېره له پښتو سره د نورو لرغونو ژبو پر ژبنيو اړيکو هم څېړنيز بحثونه شوي دي. د ميجر راورټي يو مشهور کتاب »گلشن روه «دی، دا اثر په غټه کچه کې ۳۹۸ مخونه لري. په دې کتاب کې د پښتو د مشهورو شاعرانو او اديبانو د نظم او نثر بېلگې راټولې شوې دي. دا کتاب په ۱۲۷۷هـ . کــــې چې له ۱۸٦۰ز. سره سمون لري چاپ شوی دی او د سر په مخ باندې يې دا ليکل شوي دي:

»د ملکې ويکټوريا د پوځ درېم پلټن د تورن (کپټن) له خوا تأليف او په بمبيي کې پوښ شو «لـــــه دې عبارت څخه جوتېږي چې د دې کتاب په سريزه او تأليف دواړو کې راورټي په بمبيي کې و. د دې کتاب په سريزه کې نوموړی ليکي: »په هر ډول چې دا کتاب چاپ شي، نو املايي تېروتنې به نه لري او د يوه بدرنگ کاتب د خط په مقابل کې به غوره وي. .«

ما له شېږو نثري او لسو منظومو آثارو څخه غورچاڼ وکړ. د گلشن روه د املا کره والی او ښايست په رښتيا هم د ستاينې وړ دی.

د راورټي دوه نور کتابونه پښتو قاعده (Pashto Manual) او د لقمان حکيم کيسې هم شته. په دې آثارو کې »د لقمان حکيم کيسه «نومي اثر په ۱۸۷۱ز. کې او پښتو قاعده په ۱۸۸۰ز. کې په لندن کـــــــې چاپ شوي دي.

**۲) کپتان وان (Captain Wagon)**

کپتان وان هم د راورټي په څېر په برتانوي پوځ کې دنده دردلوده چې ډېر وخت په بنگال کې و. تر راورټي دمخه نوموړي د پښتو ژبې گرامر ليکلی دی، چې راورټي يې هم يادونه کړې ده. د ده د گرامر کتاب په ۱۸٦۰ز. کال په لندن کې چاپ شو چې ۱۰۴ مخونه يې درلودل.

**(۳) هنري والټر بيليو (H. W. Bellew)**

بيليو د برتانيا و. د بنگال په انگرېزي پوځ کې يې د سرجن دنــــــده درلـــــوده. نوموړي يو کتاب «A Grammar of Pakhto or Pashto Language» ليکلی دی چې په ۱۸٦۷ز. کې چاپ شوی دی. په ۱۸٦۸ز. کې د ده ليکلی سيند (قاموس) هم چاپ شوی


څېړنپوه مولا جان تڼيوال


## سينکروني او ډياکروني
## (Synchronie und Diachronie)

کله چې موږ د نومونو په اړه فکر کوو، نو زړونو ته مو دا خبره لوېږي چې نومونه يا اصطلاح به هر چېرته او د پوهنې او انساني ژوند په ټولو ساحو کې په يوه ډول کارول کېږي او پېژندل کېږي، خو خبره داسې نه ده. د بشري ټولنو په ژوند کې د يوې نومونې مجازي اړخ ته پاملرنه کېږي او هغه مفهوم يا مطلب چې د يوې نوومونې په تعبير کې تر سترگو کېږي د هغې په جوړښت کې نه ليدل کېږي.

د نومونې په باره کې د آريانا قاموس ( پښتو- پښتو) په لومړي ټوک کې داسې ليکل شوي دي:

۱) داسې ژبنی ترکيب چې په هغه کې ټولې کلمې په خپلو اصلي معنا وو نه استعماليږي او د ټولو کلمو د معنا وو له ترکيب څخه داسې يو واحد مفهوم لاسته راځي چې په جلا جلا ډول د هرې کلمې له اصلي معناوو سره ارتباط نه لري.

۲) ايډيم، ټرم، هغه کلمې چې د استعمال له پلوه په کوم علم کې په خاص ډول استعماليږي، فزيکي نومونې، کيمياوي نومونې، طبي نومونې.

۳) ورڅه، محاوره.

خو د دې برعکس د پوهنې په بېلابېلو برخو او ساحو کې د يوې نومونې مفهوم او محتوا د هغې په جوړښت کې ډېر اسانۍ سره موندل کېدای شي. موږ په دې ځای کې په ځينو هغو نومونو يا اصطلاحاتو باندې خبرې کوو چې په ژبپوهنې کې کارول کېږي او د منځپانگې له مخې د ژبپوهنې د يوې ډډې يا اړوندې ځانگې سره اړخ لگوي. په دې ځای کې ماته د يوه ټکي يادونه اړينه وبرېښېده او هغه ټکی دا دی چې د هرې ژبې ژبپوهان او ژبڅېړونکي دا هڅې کوي چې د پرديو وييونو پرځای د خپلې ژبې وييونه وکاروي. دا چې زموږ د پوهانو ټېرم يا اصطلاح ته د نومونې ويي کارولی او کاروي يې ښه اقدام دی، ځکه د ځينو نورو ژبو پوهان وار د مخه داسې کړنې کړې دي. په ډېرو ځايونو کې د ټېرم يا نومونې لپاره (Fachwort)کلمه کارول کېږي چې د مسلکي يا فني ويي معنا لري. د نومونې د ويي لپاره په جرمني ژبه کې د (Terminus) کلمه کارول کېږي چې د فني او مسلکي څرگندونې معنا لري. دا ياده شوې نومونه په شپاړسمې پېړۍ کې رامنځته شوې ده او منشاء يې لاتين ژبه ده. دا يادونه بايد وکړم چې د ټرمنس (Terminus) فني - مسلکي نومونه په انگرېزي ژبه کې د بريد، اخري پړاو، وروستۍ اډې- تم ځای او وروستۍ موخې په معنا کارول کېږي.

اوس به دې ته را شو چـــــې د (Diachronie) او (Synchronie) نومونې د څه سره سرو کار لري او د ژبپوهنې په کومو څانگو پورې اړوندې دي:

(Diachronie) د يوې ژبې تاريخي پرمختگ، انکشاف او د هغې د بدلون علتونه د تاريخ په اوږدو کې تر مطالعې او څېړنې لاندې نيسي له دې څخه دا په ډېرې اسانۍ سره څرگندېږي چې دا نومونه په تاريخي ژبپوهنې پورې اړونديږي، ځکه چې تاريخي ژبپوهنه د يوې ژبې پرمختگ، بدلون او نور ورپېښ شوي تحولات د تاريخ په اوږدو

کې تر کتنې او څېړنې لاندې نيسي د دې نومونې (Chronos) يوناني ويی دی چې‌د وخت معنا لري د (Synchronie) د نومونې اصل (Synchron) ويی دی چې د يوه ( مشخص) وخت يا په يوه وخت کې معنا لري .(Synchronismus) نومونه هم د همدې ويي پر بنسټ رامنځته شوې برېښي چې د برابروالي، په يوه وخت کې پېښېدنې يا په يوه وخت کې مطلب پکې نغښتی دی. موږ کولای شو دا ووايو چې سنکرو نيزم هغه پېښې، تحولات او بدلونونه دي چې په يوه وخت کې يا د يوه وخت په پړاو کې رامخې ته کېږي.

د (Synchronie) نومونه په ژبپوهنه کې په لاندې ډول کارول کېږي: په يوه ټاکلي او مشخص وخت کې د يوې ژبې د حالت يا وضعيت د څرگندولو په اړه کړنې او څېړنې د (Synchronie) په نوم يادوي.

دا نومونه د تشريحي ژبپوهنې سره ډډه لگوي، ځکه چې تشريحي ژبپوهنه د يوې ژبې تحولات، انکشاف، بدلون او نورې ځانگړنې د تاريخ په يوه مشخص پړاو کې تر کتنې او څېړنې لاندې نيسي. دا څرگندونې موږ دې ته متوجه کوي چې که د ژبپوهنې نومونو ته پاملرنه وشي شونې ده چې داسې امکانات برابر شي چې په راتلونکي کې د ژبپوهنې داسې سيندونه وليکل شي چې له يوې خوا به د هرې برخې نومونې او د هغوی د کارونې چاپيريال وپېژندل شي او د بلې خوا به دا موقع برابره شي چې يو زده کړيال، څېړونکی او ليکوال په اسانۍ سره د يوې موضوع اړوندې نومونې بيامومي او د اړتيا په وخت کې گټه ترې واخلي.

يادونه: (Diachronie) او (Synchronie) د نومونې مخکينۍ برخې ( Día) د په لړ کې، په منځ کې (Syn) د سره معناوې لري.

**مأخذونه**


۱- اريانـــــــا قاموس(پښتو - پښتو) لومړی ټوک. د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: بهير مطبعه، ۱۴۰۲ ل.

۲- د ژبپوهنــــــــې د نومونو سيند. (په جرمني ژبه)، لومړی چاپ، لايپزيک: ۱۹۸۵م.

۳- مېڅله سينده ژبه. (په جرمني ژبه)، ستوتگارت - وايمار: ۱۹۹۳م.


---


څېړنپوه محمد نبي صلاحي


## د اسلامي او افغاني فرهنگ په ترويج او ساتنه کې د رسنيو ونډه (۳) برخه

پنځمه خبره دا ده؛ هر څومره چې، ستاسې بچيان له مطبوعاتي ډگر نه لرې وي ، په هماغه کچه او اندازه به، پټې سترگې اوله معلوماتي تکنالوژۍ نه لرې وي. نو هله، ژر شئ، دغه زيوراو قلم په لاس کې ورکړئ او په خپلو بچيانو باندې، ددنيا او اخيرت ابدي خير ولوروئ!

ښه ښوونه او روزنه، ستاسو له بچيانو نه، د سرو زروداسې ټوټې جوړوي چې، هېڅ وخت خپله بيه له لاسه نه ورکوي ، بلکې ورځ په ورځ يې ارزښت ډېرېږي. د ښوونې او روزنې په بهير کــــــې، د انساني پانگې اچونې نظريه چې، د يــــــوه امريکايي پوه (تيودور شولتز) له خواچې، د شيگاکو پوهنتون استاد او څېړونکی دی، په ۱۹٦۰ ز. کال کې، د امريکا د ( سياسي اقتصاد) په مجله کې، د يوې علمي مقالې په ترڅ کې روښانه او وړاندې شوه، د نوبل کميټې پام ځانته را واړاوه. دغه عالم، په۱۹۷۹ ز.کال کې، په يوه علمي مقاله، دغه معتبره نړيواله جايزه وگټله او د انساني پانگې د پلار نوم يې وگاټه. ( شولتز) لومړی په سنت لوئيس کې، د امريکا د اقتصادي ټولنې په يوه غونډه کې، په انساني پانگه کې پانگونې مطرح کړې او په دې اړه يې، د نړۍ د څېړنيزو مرکزونو پام دې موضوع ته را واړاوه.

(شولتز) په خپله دغه مقاله کې دا نظريه داسې بيان کړه چې که په يوه ماشوم باندې ، د ښوونې او روزنې په لړ کې پانگه اچونه وشي او هغه په دې برخه کې، د کمال بريد ته ورسېږي او گڼ شمېر مهارتونه زده کړي، نو بيا هغه لکه يوه فزيکي کارخانه چې توليد کوي، دغه راز په راتلونکي کې، اقتصادي اهميت پيداکوي. له دې امله دغه تيوري، »د انساني پانگې اچونې «په نامه باندې ومنل شوه. دا خو د ۳۰- ۴۰کالو مخکې خبره ده، مگر تاسې وگورئ چې، د پښتنو هوښيارانوپېړۍ مخکې، په دې اړوند څه ښه ويلي دي:

»علم زده کړه، د کندو تر شايي کېږده! «

د ښوونې او روزنې د اقتصاد د علم رسمي زېږنده، ۱۹٦۰ ز. کال د دسمبر ۲۰ نېټه گڼل شوې ده. په دغه ورځ، دغه پوه، د انساني پانگې نظريه بيان او له هغې نه د فاع وکړه.

»د يوې ټولنې د پرمختگ څرنگوالی، په نورو عواملو سربېره، د هغې ټولنې د و گروپه علـــــــمي او مسلکي توانونواو مهارتونو پورې تړاو لري او علــــــمي څواک او مهارت هم، د پوهنې له لارې لاسته راځي. نو په دې توگه، پوهنه (ښوونه او روزنه) په انسانانو کې ځينـــــې انساني ځانگړنې ژوندۍ کوي او هغو ته پراختيا ورکوي. څرنگه چې، د يوې ټولنې د اقتصادي او نورو بدلونونو بهيراو ځانگړنې، په نورو عواملو سربېره، د هماغه هېواد په بېلابېلو زيرمواو له هغې جملې نه، په پانگو تړاو لري، نو په دې ترڅ کې، د مادي زيرمو او پانگې تر څنگ، انساني پانگه هم ټاکونکی رول لري. «(٦)

په لنډه توگه، انساني پانگه، د ژوندانه په بېلابېلو برخوکې، د انساني وړتياوواو قابليتونو ټولگې ته ويل کېږي. دا توان( قابليت او مهارت) د انسان په بدن کې دننه، د کيفي ظرفيت او پرځان باندې د لگول شويو لگښتونود »پانگونې «له لارې منځ ته راځي. څرنگه چې، پوهنه په يوه فرد کې، د مهارتونو، پوهې او د پېژندنې توان ذخيره زياتوي، نو په واقعيت کې، دا زيرمې د پانگې حيثيت لري، چې په را وروسته کې، هم ښتن يې او هم ټولنه ترې کار اخيستلای شي. په همدې خاطر ده چې، هېوادونه د خپلو ټولنود وگړو د ښوونـــــــې او روزنې په موخه، د پام وړمالي لگښتونه کوي، تر څو انساني پانگه منځ ته راوړي او هغه بډايه کړي.

د انساني پانگې په منظور، د لگښتونو ځينې بېلگې عبارت دي له: د ښوونې او روزنې د دوران لگښت، د خدمت په وخت کې زده کړه، روغتيا، درملنه او تغذيه يانې هغه څوک چې، ښه تغذيه شوی وي، صحت يې جوړاو پوهه ولري، د هغه چا په پرتله، چې په دې برخو کې تشه او کمی ولري، په توليدي او اقتصادي چاروکې، ښه ونډه اخيستلای شي او عايد يې هم ، له نورو نه زيات وي. )«٦)

له بده مرغه، موږتر اوسه پورې، له ښوونځي مخکې دورې لپاره، تصويرې او انځوريز کتابونه، نه لرو. پوهان وايي چې، د ماشوم په ژوند کې، لومړی کال تر ټولو راوروسته کلونو ډېر مهم دی، دغه وړدويم، تر درېيم او درېيم تر څلورم او همداسې د کوچنې د ماشومتوب د ژوندانه نورلومړني کلونه. د کوچني د ژوندانه له لومړي پړاو نه راوروسته، د نرسري دغه دوره چې، له درېيم کال نه وروسته، بايد په رسمي ډول پيل شي، ډېره مهمه ده، چې تر اوسه پورې په اساسي او ضروري ډول، دلته نه ده پيل شوې. زياتره کوچنيان په شپږکلنۍ او اووه کلنۍ کې ښوونځۍ ته ورکوي او په دغو اووه کلونو کې، هغه يو شمېرناوړه عادتونه واخلي او دغه ناوړه خويونه، د ماشوم په را وروسته ژوندانه باندې، ډېرې ناوړه اغېزې شيندي. ځکه د هغه لپاره د ښوونې او روزنې د بزغلې په دغه دوره کې، کوم پوره تياری او بندوبس نشته او دا بايد په سراسرې توگه پيل شي!

په افغانستان کې، د پوهنې د ټيټې سويې يو اساسي علت، د ماشوم له مورنۍ ژبې نه، د هغه محروميت دی. په مورنۍ ژبه زده کړه، کوم امتياز نه، بلکې د ماشوم پيدايشي حق دی او دا بايد د تل لپاره، د ښوونې او روزنې په بهير کې، په پرله پسې توگه، په پام کې وي اوعمل پرې وشي.

ټولو افغاني رسنيو ته په کار ده، چې په پورتنيو برخو کې خپل هېوادنی، اخلاقي او ملي مسؤليت، په خپل مسلکي مهارت سره په ښه شان تر سره کړي. د افغانستان کوچنيانو او ځوان نسل ته زموږ د اسلامي او افغاني فرهنگ په پېژندنه، پوهاوي او د ناوړه دودونو په سمون او اصلاح کې خپل رغنده او جوړوونکی رول د خپل تاريخي مسؤليت په رڼا کې ترسره کړي.

په پای کې، دغه مضمون د اروابناد استاد گل پاچا الفت د شعر په دغه بيت باندې پای ته رسوو:

هر څه را نه واخله، خيال او فکر مې مه وژنه
په دې کې مې وطن ته لوی تاوان ليدلی دی

**پايله**

په دې مقاله کې د اسلام د سپېڅلي دين او افغاني کلتور د دودولو(ترويج)، ساتنې، پالندرې، لوړتيا، اوچتيا او پياوړتيا په برخه کې، د افغاني رسنيو ونډه ښودل شوې ده. په دې ټکي باندې ټينگار شوی دی چې، د اسلام د سپېڅلي دين او افغاني کلتور د غښتلتيا په برخه کې، بايد د افغاني رسنيو اغېز غوځ او جوړوونکی وي. په دې برخه کې هر ډول شک او تردد بايد زموږ د افغاني رسنيو له په زړه پورې نړۍ نه د تل لپاره لرې شي.

وړانديزونه

۱. اصيل اسلامي او افغاني فرهنگ د دودولو او ترويجولو په برخه کې مستندې ډاکومينټرې ځانگړی رول لري، دغه مستندې ډاکومينټرې دې زياتې شي.

۲. که زموږ د اسلامي اوافغاني فرهنگ په اړه د ولس د ذهنيت په پام کې نيولو سره ډاکومينټرې د تمثيل په ژبه وړاندې شي، ولس يې ژر هضمولای شي.

۳. افغان رسنۍ؛ بايد د اسلاميت او افغانيت په فضا کې د اسلام مقدس دين او افغانيت ته ژمنې وي.

**مأخذونه**


۱. د افغانستان د علومو اکاډمي پيغام. ناوړه دودونه او د اصلاح لارې چارې( د علمي -څېړنيز سيمينار د مقالو ټولگه). د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د امارتي ازادي مطابعو چاپ: کابل،۱۴۰۱ل کال، ۵مخ.

۲. محمد شريف څدراڼ. د افغان ملت پېژندنه. څېړندوی: په خپله ليکوال، چهاردهي صنعتي مطبعه: کابل، ۱۴۰۲ل کال، ۱مخ.

۳. آمنه رازق. جلاوطنه پښتو شاعري. د افغانستان قلم ټولنه، افغان مسلکي مطبعه: کابل، ۱۳۸۹لمريز، ۱مخ.

۴. محمدنبي صلاحي. مينه د ماشوم حق دی، د ملي ارمانونو فرهنگي ټولنه، افغان مسلکی مطبعه: کابل،۱۳۹۱ل، ۱۸.

۵. عبدالحکيم راميار. انساني پانگه اود هغې ځانگړنې، تربيت ( مجله)، کابل ، د پوهنې وزارت،۱۳۸۹ لمريز کال، لسمه گڼه، ٦٦مخ.

٦. پورتنی مأخذ. ٦٦مخ.


پای


ZERAI
Afghanistan Science Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor.
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

**Assistant:**
Assistant Prof. Pokhtoon Pokhtoon

*Compose and Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA) Shahr-E Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com